د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# Logar
# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

**الله تعالی دبقرې دسورت پـه (۱۶۸) آیت کې فرمایلي:**

**اې خلکو دځمکې پر سر هغه موجود څیزونه وخورئ، چې پاک او حلال دي او دشیطان په جوړې کړې لارې پسې مه ځئ، بیشکه چې شیطان ستاسو ښکاره دښمن دی.**

یکشنبه د۱۳۹۹ کال د چنګاښ میاشتې لومړی، د ۲۰۲۰ عیسوي کال دجون یویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۲) لومړی کال، دویمه ګڼه

سرلیکنه ...

## تلپاتې سوله دافغانانو یوازینۍ غوښتنه ده!

سولې ته هرانسان اړتیا لري، ځکه د سولې پرته ژوند له ډول ډول ننګونو سره مخ وي، لکه زموږ هېواد چې څلور لسیزې وشوې دجګړو په اور کې سوزي او افغانان تل د سولې راتلو نارې وهي، خو د سولې دراتګ څرک هم نه لګیږي.

جګړه چې د سولې ضد کلمه ده، ډیری خلک ورڅخه کرکه لري، ځکه جګړه هغه ناوړه پدیده ده، چې له وژنو، ویجاړیو، کډوالیو، بې کوره کېدو، بېوزلیو او ناچاریو پرته؛ هېواد له سترو اقتصادي، ټولنیز او سیاسي بحران سره مخ کوي، چې بیا به کلونه کلونه په پښو ونشي دریدلای.

افغانستان چې تېرو نولسو کلونو را په دېخوا دیوې نوي فصل پرانیسته وکړه، خو بیا هم افغانان په هغه کچه چې د ژوندانه اړتیاوې پوره شوې وای، نه دي پوره شوي، د یوې نیمې لسیزې نه زیات وخت په تېریدو؛ که څه هم هېواد د پرمختګ په لوري یون ترسره کړې، ولې بیا هم خلک په کراره نه دي ناست او دتېر په څېر د وژنو، ویجاړیو او جګړو شاهدان دي.

دغه بدبختۍ چې په هېواد کې ترسترګو کیږي، ډیری یې بهرني هېوادونه او استخباراتي کړۍ دي، چې دوی نه غواړي افغانستان دې په هر اړخیزو برخو کې په پښو ودریږي. زموږ په منځ کې یې نفاق اچولی یو بل ته یې هڅولي یو او دځینو افغانانو په توسه هېواد کې دسترې غمیزې اور بل کړې دی.

اوس نو دجګړو دواړو ښکېلو خواو ته پکار ده، چې په خپلو منځونو کې سوله وکړي او دخلکو غوښتنو ته لبیک ووایي، څو په افغانستان کې دیو داېمن امنیت په ټېنګښت وګړي وکولای شي، چې دهېواد په دننه کې په کار بسیا او هېواد د پرمختګونو په لوري خوځښت پیدا کړي.

ځکه سوله ده، چې په یوه هیواد کې د پرمختګونو د ودې لمن رانغاړي، ولسونه یې په هوسا او آرام ډول او په یوه نېکمرغه ټولنه کې ژوند ته مخه کوي.

په دې ورستیو وختونو کې چې د سولې خبرې په درز رواني وې او په هېواد کې د اورکم یا دتاوتریخوالي لړۍ د دواړو لورو نه شوې وه، دخلکو هیلې یې تر یو بریده وغوړولې، خو د خلکو هیلې بیرته یو څه ناهیلې کړې، ځکه وسلوالو بیا ځلې دهېواد ګوټ ګوټ کې جګړو ته زور ورکړې دی.

په هېواد کې یو لوري جګړه، بل لوري ته دکرونا ویروس خپریدل دي؛ نو څنګه به بې وسه افغانان وکولای شي، چې له دغو ناورین څخه ووځي.

دالله تعالی په مرسته او دافغانانو ترمنځ یوالی کولای شي، چې یادې ستونزې له منځه لاړې شي. طالبان او حکومت دواړه سره سلا او تلپاتې اوربند دې وکړي، چې افغانان داقتصاد له پلوه غني او همدارنګه وکولای شي، چې په هېواد کې سیاسي لوبو ته د پای ټکي کېښودل شي.

ولس په طالبانو او حکومت دواړو غږ کوي، چې د سولې راوستو په لاره کې هر راز مرستو ته تیارسی واوسي او دغه نیک ګام ورته اسلامي وجیبه بولي، چې دوی د یو سبورې لاندې سره را ټول او یوې پایلې ته په رسیدو چې سوله ده، ورسیږي. ځکه نور افغان ولس له جګړو، ورور وژنې ستړي شویدي؛ سوله، امن، ثبات او د یو داېمن افغانستان غوښتونکی دي.

**ثریا دخدای پامان**

**مدیر**

## په لوګر کې دسنځل ګل دودیزه کلنۍ مشاعره د(سولې او اوربند)ترسرلیک لاندې ولمانځل شوه







په لوګر ولایت کې د سنځل ګل دودیزه څوارلسمه مشاعره او میله دغبرګولي په ۱۵مه دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ ریاست او دولایت مقام لخوا ولمانځل شوه، چې پکې دلوګر والي محمد اجمل شاه پور، داطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل د دولتي ادارو مسؤلینو په ګډون، فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالانو، د ادب مینوالو، مشرانو، ځوانانو، میرمنو او خبریالانو برخه اخیستې وه. دمشاعرې له پیل مخکې په لنډه توګه د سنځل ګل مشاعرې په تړاو ویډیویي مالومات ګډونوالو ته وړاندې شول.

دمشاعرې لومړۍ وینا وال دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل ؤ، چې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه.

عبدالرحمن تسل د سنځل ګل مشاعرې اصلي موخه د فرهنګ بډاینه دځوانانو ترمنځ یوالی، وروړګلوي او همغږي یاده کړه، زیاته یې کړه، چې ورته مشاعرې د ټولنې په پرمختګ کې مثبت او ګټور تامیدلای شي، چې شاعران، لیکوالان او ادیبان دټولنې دردونه په نرمه ژبه تر حکومتي مسؤلینو رسوي او هغوی دې ته اړ باسي، چې د ولس په دردونو دملهم پټۍ کیږدي.

عبدالرحمن تسل وویل، سږنۍ سنځل ګل مشاعره دکروناویروس له امله په جوش او خروش لکه څنګه چې لازمه وه، ونه لمانځل شوه. تسل وویل، چې دیادې ناروغۍ له منځه تلو سره به ډیرې فرهنګي ناستې او غونډې دځوانانو او فرهنګي شخصیتونو له لوري په لاره واچول شي. لوګر والي محمد اجمل شاه پور وینا واوروله ویې ویل، چې مشاعرې او ادبي ناستې په ټولنه کې دیوالي او پرمختګ سبب کیدای شي او ټولنه د سمون لورې ته بیایي.

لوګر والي په هېواد کې د روان څلویښت کلن ناورین پای ته رسیدو؛ دشاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او ځوانان رول مهم وباله. ویې ویل، چې دوی کولای شي، دقلم په توسه د هېواد په پرمختګ کې لاس په کار او هېوادوالو ته دخدمت جوګه وګرزي.

شاه پور له ځوانانو، فرهنګپالو او ادیبانو غوښتنه وکړه، چې ملي او مذهي ارزښتونو ته په لیکنو او شعرونو کې ځانګړې ځای ورکړي.

والي له فرهنګي اړخه ځوانانو، فرهنګیانو، شاعرانو او لیکوالانو سره ژمنه وکړه، چې دولایت دروازه د دوی پرمخ خلاصه ده، چې دفرهنګ په ډګر کې به خپلې مرستې ورسره ترسره کړي.

د ولایتي شورا دوه تنو وکیلانو، سید قریب سادات او نفیسې هجران هم دمشاعرې په اړه ارزښتمنې ویناوې واورولې، دوی دلوګر او سنځل ګل توصیف په لنډو ټکو کې بیان کړل.

دخبرو او ویناو لړۍ پای ته رسیدو سره جوخت دشعر او شاعرۍ لړۍ پیل شوه، چې د لوګر ولایت شاعرانو؛ مستري زلمي ستانکزي، محمد نذیر زاهد، حلیب ګل ملال، عباس عاصي، سیف الرحمن غریب یار او نورو.. په خپلو شعرونو کې دهېواد په اوسني وضعیت، ملي یوالي ته کار، دمخالفینو سره روغه جوړه، په هېواد کې د تلپاتې سولې راتګ، دحکومت په کړنو سالمې نیوکې او نورو برخو موضوعګانو ته ځای ورکړې ؤ، ګډونوالو ته شعرونه واورول.

محمد نذیر زاهد د هېواد څخه دجګړو پای ته رسیدو شعر ولوست، چې پکې غوښتنه شوې وه، موږ له جګړو ستړې شوي یو، خیر که زموږ د میړانې تورې زنګ ووهي، پروا یې نشته؛ خو چې سوله دې په افغانستان کې راشي.

همدارنګه نورو شاعرانو په خپلو شعرونو کې د سولې او اوربند غوښتنه هم کړې وه، چې افغانان له جګړو په تنګ راغلي، دوی په هېواد کې دیوې تلپاتې سولې غوښتونکي دي.

ځینو نورو شاعرانو د لوګر او سنځل ګل په وصف او توصیف باندې هم شعرونه واورول.

همداراز طنزي شعرونه هم شاعرانو ولوستل، چې د مشاعرې دګډونوالو لخوا په چکچکو بدرګه کیدل.

دیادونې وړ ده، چې په دې مشاعره کې دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا دکتابونو، دقدیمي توکو آثاراو لاسي صنایع هم ننداړې ته وړاندې شوي ؤ.

پاتې دې نه وي، دمشاعرې په پای کې؛ دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا شاعران او لیکوالان په ډالیو او سوغاتونو باندې ونازول شول.

## کمپاین آگاهی دهی درمورد وقایه وجلوگیری از شیوع ویروس کرونا در شهر پل علم

ریاست اطلاعات وفرهنگ به همکاری جوانان رضا کار با توزیع برگه های آگاهی دهی وپخش پیام های صوتی به منظور وقایه و جلوگیری از شیوع ویروس کرونا درشهر پل علم آگاهی دهی نمودند ودوصد برگه های آگاهی دهی برای شهروندان لوگر توزیع گردید.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که این کمپاین به منظور اتخاذ تدابیر وقایه وی، جلوگیری از شیوع ویروس کرونا وبلند رفتن سطح آگاهی مردم راه اندازی گردید تا در روز های عید سعید فطر ازشیوع و گسترش بیشترویروس کوید نوزده جلوگیری بعمل آید، طی این کمپاین ده ها برگه آگاهی دهی، به شهروندان لوگر توزیع شد.



آقای تسل میگوید که برای بلند رفتن سطح آگاهی مردم وجلوگیری ازشیوع این ویروس کشنده، همه مردم باید تلاش نمایند وتمام نکات صحی را درنظر بگیرند، وی علاوه کرد که ریاست اطلاعات وفرهنگ از زمان شیوع ویروس درکشور، چندین بار درشهرآگاهی دهی نموده است که این بار بمنظور، رعایت نکات صحی توسط مردم در روزهای عید سعید فطر، آگاهی دهی صورت گرفت تا ازگسترش بیشترویروس جلوگیری بعمل آید.

## بمنظورتامین صلح ونیایش به درگاه رب، ختم قرآن عظیم الشان صورت گرفت

جهت نیایش به درگاه رب منان(ج)، برای حل بحران های کشوروتامین صلح سرتاسری، رییس وکارمندان ریاست اطلاعات وفرهنگ با حضورداشت برخی جوانان رضاکار اول جوزا درصحن حویلی این ریاست ختم قرآن عظیم الشان نمودند تا به برکت دهه اخیرماه رمضان دامنه گسترش وشیوع ویروس کرونا برچیده شود وصلح باعزت نصیب همه افغان ها گردد.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ گفت که رمضان ماه پُر فیض ونجات از آتش دوزخ است وی از بارگاه خداوند (ج) متعال استدعا نمود که به برکت این ماه صلح درکشورتامین گردد، آقای تسل ازطرف های درگیر جنگ خواست که به آرزویی دیرینه مردم که همانا تامین صلح است ارج بگزارند.

قابل یاد آوری است که جوانان وهمه افغان ها دراین اواخر تلاش شانرا برای تامین صلح بیشترنموده اند وهمه به یکصدا می خواهند که به جنگ نقطه پایان گذاشته شود. درپایان مراسم ختم قرآن عظیم الشان، همه اشتراک کننده گان به درگاه رب منان نیایش نمودند که جنگ وکشمکش ها درکشورپایان یابد.

**ګرانو هېواد والو! د کرونا ویروسي ناروغۍ دمخنیوي لپاره، د لاس ورکولو، ښکلولو او روغبړ څخه ډډه وکړئ!**